مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۴/۲۹

# د افغان او انګرېز دوهمه جګړه

ليکوال: برید جنرال ليونید نيکولايويچ سوبوليف
ترجمه: محمدطاهر کاني

دا د هغه کتاب نوم دی چي د پښتو ژبي مشهور شاعر، ليکوال او مترجم ښاغلي محمد طا هرکاني، چي نور ګټور تاريخي کتابونه يې هم ترجمه کړي دي، په ماسکو کي له روسي ژبي څخه ژباړلی او ليکوال يې بريدجنرال ليونيد نيکولايويچ سوبوليف دی؛ چي په نونسمه پېړی کي د روسيې له تکړه قوماندانانو څخه وو او د افغان او انګليس د دوهمي جګړي ۱۸۷۹-۱۸۸۰ په وخت کي يې په جنګونو کي مداولنه کټل.
زه چي د دې کتاب له ترجمه کېدلو څخه خبر سوم نو مي، د کتاب د لاسته راوړلو لپاره، هري خواته تلاښ پيل کړ؛ ځکه چي د افغانستان د تاريخ د دونه مهمي پيښي په اړه د يوه روسي جنرال، چي په هغه وخت کي هم يو عالي رتبه صاحب منصب وو، د کتاب درلودل او مطالعه کول زما لپاره د بېحده علاقي وړ وو.
که څه هم چي دا د انګرېزانو او افغانانو ترمنځ جګړه وه او افغانانو، پرته له دې چي د هيڅ لوري مرسته دي ورسره وي، يوازي په خپل غيرت او مړانه د نړی تر ټولو ستر استعماري طاقت ته د دوهم ځل لپاره شرموونکي ماته ورکړه؛ خو روسانو، لکه څرنګه چي د افغان او انګليس په لومړي جنګ کي يې د شيطانت کولو رول درلودی، دا ځل د افغان او انګليس د جنګ په پيل کولو کي تر لومړی جګړي لا هم زيات رول ولوباوه. زما هيله دا وه چي روسي جنرال به د افغانانو او انګرېزانو د دې جنګ په برخه کي د روسانو له آرشيف څخه کار اخيستی او د يوه روسي جنرال او مورخ له نظره به يې مساله څېړلي وي. له بده مرغه چي روسي جنرال هر څه د انګرېزانو له ليکنو څخه اخيستي وه او، پر دومره مهمه موضوع باندي د خپلي لنډي، درې مخه سريزي، په پای کي ليکي « د جګړي د بيان لپاره تر ټولو لويه سرچينه د انګرېزي ورځپاڼو ريپوټونه، راپورتاژونه او يادښتونه دي. په دې توګه ويلای شو چي دا کتاب نيژدې ټول پر هغو معلوماتو ولاړ دی چي په ټلګرامونو کي څرګند شوي دي»
که څه هم چي انګرېز مورخينو او ليکوالانو به هم د افغانستان سره د جنګونو د پېښو په اړه ډېر دروغ ويلي او پرحقايقو به يې سترګي پټي کړي وي خو ډېر ځله يې داسي آثار ليکلي دي چي سړي ته د جنګ د دواړو اړخونو په باب د حقيقت يو څرک روښانوي. خو زموږ روسي مورخ، لږترلږه په دغه کتاب کي، دا کار نه دی کړی او يا به يې د ليکلو اجازه نه درلوده. جنرال سوبوليف د خپلي لنډي مقدمي په ترڅ کي د انګرېزانو پر استعماري پاليسی او له کمزورو هيوادونو سره د هغوی د سلوک په باب ډېر زړه ور ورځي او ليکي« د افغانستان په حق رسېدلي پاچا اميرشېرعلي خان نه غوښتل چي د برتانوي هند له مرستيال واکمن سره ان خبري هم وکړي. شيرعلي خان د ۱۸۷۶ کال د جنوري پر اوومه توركي سلطان ته په يوه ليک کي وليکل « زه خبريم چي تاسي اعليحضرت هغه څه ومنل چي ما په وروستي ليک کي څرګند کړي ول او هغه دا چي د انګرېزانو دوستي هغه کلمه ده چي پر کنګل ليکلي شوې وي. خو اوس چي تاسي جلالتماب پخپله وليدل کولای شی چي په خپله تجربه دادمن شی، چي د دوی په دوستي باور کول ضرور نه دی. او تاسو يې وينی چي انګرېزان تل خپل ملګري په سخته او بده ورځ کي خپل برخليک ته پرېږدی... زه دا خپله دنده ګنم چي له تاسي جلالتماب څخه هيله وکړم چي له انګلستان سره له اتحاد کولو ډډه وکړی»
له انګرېزي استعمار څخه د امير شېرعلي خان زړه بېله شکه شين وو، خو دا هغه نتيجه ده چي امير، له دې ليک څخه دري کاله وروسته، پخپله، د روسيې له دوستی څخه، ترلاسه کړه. کاشکي هغه وخت د ترکيي سلطان اميرشيرعلي خان ته يو ليک استولی او کاشکي يې زموږ څخه کاپي موجوده وای. د ترکيي سلطان به امير شېرعلي خان ته حتما ليکلي وای چي د هغه زړه له روسانو څخه په هماغه اندازه شين دی لکه د امير چي له انګرېزانو څخه دی. په حقيت کي لوی او استعماري قدرتونه هر وخت يوازي او يوازي د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په تلاښ کي وي او له هغوی سره په معامله کي د مړدی او نامردی خبري يوازي په شعر او شاعري کي خوند کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

لوستونکو ته به معلومه وي چي په ۱۸۶۳ کال کي، په هرات کي، د امير دوست محمدخان له وفات څخه وروسته، د هغه له وصيت سره سم، د هغه زوی امير شېرعلي خان په کابل کي پاچا سو. د هغه له پاچاکېدلو سره سم، د وروڼو ترمنځ، چي د افغانستان په بېلوبېلو ولايتونو کي حکمرانان ول، مخالفتونه او جنګونه پيل سول. بالاخره د شېرعلي خان دوو مشرانو وروڼو امير محمدافضل خان او محمداعظم خان هغه ته ماته ورکړه او کابل يې ورڅخه ونيوی. په داسي حال کي چي شيرعلي خان لا په هرات کي وو او د بيا پاچاکېدلو کوښښونه يې کول، امير محمدافضل خان د برتانوي هند له ګورنرجنرال لارډ لارنس څخه د رسميت پېژندلو غوښتنه وکړه. ګورنرجنرال، د افغانستان په داخلي جنګونو کي، بېطرفي اختيار کړه. دې کار محمدافضل خان خواشينی کړ او په تاشکند کي يې د روسيې له ګورنر جنرال رومانوفسکي سره تماس ټينګ کړ. هغه ته يې د لارډ لارنس د ليک يوه کاپي هم ورواستوله. په پيغام کي يې ورته وويل چي له انګرېزانو څخه ښه زړه نه لري او د روسانو پر دوستي باندي حساب کوي. وروسته يې هيله څرګنده کړې وه چي هيله لري ډېر ژر د روسانو کمپ ته يو سفير ولېږي او په افغانستان کي به د روسانو تجارتي ګټي ورته خوندي کړي. رابرټس ص ۳۰۴

البته محمدافضل خان ډېر ژر وفات سو او د هغه کشر ورور اميرمحمداعظم خان هم چنداني کراري ته پاته نه سو او څه باندي يو کال وروسته کابل بيرته د امير شېرعلي خان لاسته ورغی. محمداعظم خان په ايران کي وفات سو او وراره يې سردارعبدالرحمن خان بخارا ته وتښتېدي. له دې پېښو څخه څه باندي درې کاله وروسته په تاشکند کي د روسيې ګورنر جنرال کوفمان امير شېرعلي خان ته يو ليک واستاوه. په هغه کي يې تاشکند ته د عبدالرحمن خان د رسېدلو په باره کي رپوټ ليکلی وو او امير ته يې ډاډ ورکړی وو چي هغه به هيڅ ډول ورانکاری ته پرې نه ږدي. په دې ليک کي يې د روسيې د امپراطور سلامونه هم ورته کښلي وه او دا يې ورته ليکلي وه چي زه د افغانستان په داخلي چارو کي د هيڅ ډول مداخلې هيله نه لرم.

امير شېرعلي خان دې ليک وارخطا کړ او د روسيې د ګورنر جنرال د نيت په باب يې اندېښنه ورسره پيدا کړه. ليک يې د هندوايسرا ته واستاوه او هغه ورته وليکل چي د جنرال کوفمان څخه مننه وکړي. اميرشيرعلي خان د وايسرا په خوله وکړه او جنرال کوفمان هم خپلو ليکونو ته دوام ورکړ. سايکس ص ۹۷

جنرال کوفمان د امير سره خپلو ليکونو ته دوام ورکړ. که څه هم چي امير وخت په وخت د خپلو ليکونو کاپي وايسرا ته لېږله او داسي ښکارېدله چي وضع عادي ده خو کله چي د ۱۸۷۶ د اپرېل په مياشت کي په هند کي د برتانيې نوی وايسرا لارډ ليټن وټاکل سو هغه د افغانستان او روسيې په باب بالکل بل راز نظر درلود. له هغه سره دا وېره وه چي هسي نه روسيه يا پر افغانستان باندي د حملې له لاري او يا له افغانستان سره د لاس يو کولو له لاري په هند کي د برتانيې ګټو ته خطر پېښ کړي. هغه امير شېرعلي خان ته وويل چي برتانيه غواړي په کابل او نورو ښارونو کي استازی مقرر کړي. امير ونه منله او ويسرا لارډ ليټن وچي سرزوری ته لاس واچاوه.

په دغو حساسو شرايطو کي، چي برتانيې افغانسنتان ته له خدايه پلمه غوښته، جنرال کوفمان خپل استازی جنرال ستوليتوف له يوه هيات سره کابل ته روان کړ. دا هيات په داسي وخت کي روان سو چي اروپايي هيوادونو، د خپلو اختلافاتو د حلولو لپاره، په برلين کي د يوې مهمي غونډي لپاره تياری کاوه. په حقيقت کي دا هيات ، تصادفا، د ۱۸۷۸ کال د جون پر اته لسمه، چي د برلين د کنفرانس د افتتاح کېدلو ورځ وه، کابل ته حرکت وکړ. هيات ته وظيفه ورکړه سوې وه چي امير شېرعلي خان ته د هر ډول پوځي او مالي مرستو وعده ورکړي او په ښه دوستانه فضا کي هر اړخيز مذاکرات وکړي. څرنګه چي عصري مواصلات موجود نه ول او هيات پر آسونو باندي سفر کاوه نو ايله په هغه ورځ کابل ته ورسېد چي په سبا يې په برلين کي کنفرانس پای ته ورسېدی او د روسيې او برتانيې اړيکي لږترلږه د حاضر وخت لپاره عادي سول. داسي ښکاري چي جنرال ستوليتوف کابل ته له رسېدلو څخه يوه ورځ مخکي د جنرال کوفمان ليک ترلاسه کړ او په هغه کي يې ليکلي وه چي له امير سره د هيڅ ډول مرستي وعده ونه کړي.

جنرال ستوليټوف د آګسټ پر يوولسمه له کابل څخه بيرته د تاشکند پر لور حرکت وکړ او خپل ماموريت يې جنرال اوبرسټ راسګونوف ته پرېښود. له روسي هيات سره ملګري ډاکټرياورسکي د دغه ماموريت په باره کي خپل خاطرات ليکلي او د کتاب په شکل يې چاپ کړي دي. ښاغلی ياورسکي ليکي« جنرال ستوليټوف له کابل څخه د وتلو په وخت کي امير ته وعده ورکړې وه چي له روسيې څخه له دېرشو زرو عسکرو سره راستنيږي. اميرشيرعلي خان ځکه د هغه په وعده باور کړی وو چي هغه يو جنرال او د يوه لوی قدرت سفير وو او د روسي ترکستان ګورنرجنرال کوفمان اميرشيرعلي خان ته د هغه د معرفی په مکتوب کي ليکلي وه چي د هيات په رييس جنرال ستوليتوف داسي اعتماد ولری لکه په ما چي يې د روسی ترکستان د ګورنرجنرال په حيث لری. امير د جنرال ستوليتوف په قول اعتماد وکړ او د هغه له توصيې سره سم يې د برتانيې د هيات له قبولولو څخه ډډه وکړه. که زموږ وزير مختار د ګورنرجنرال دغه اعتماد نامه د افغانستان امير ته ورکړې نه وای او هغه ساده سړي يې هم په خبرو باور نه وای کړی نو دغه ظالمانه جنګ به، چي موږ اوس د تشو تماشه کوونکو په حيث ورته ګورو، هيڅکله نه وای پېښ سوی » ياورسکي دوهم جلد ص ۷



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

امير شېرعلي خان ته، په کابل کي د روسيې د حکومت له خوا قاطع جواب ونه رسېدی. انګرېزانو له دريو خواوو پر افغانستان باندي حمله وکړه. شېرعلي خان خپل زوی محمديعقوب خان په کابل کي امير کړ او پخپله يې له تزار څخه د مرستي اخيستلو په هيله د مزار شريف پر لور حرکت وکړ. امير شيرعلي خان ترمرګه په دې پوه نه سو چي روسانو ولې له هغه سره وعده خلافي وکړه او يا د برلين په کنګره کي څه پېښه سوې ده.

جنرال کوفمان په دغه وخت کي لا هم اميرشيرعلي خان ته په مکتوبونو کي ليکل چي که کېدلای سي له انګرېزانو سره د سولې لاره غوره کړي ځکه چي د انګلستان وزير په لندن کي د روسيې سفير ته اطميان ورکړی دی چي د انګلستان حکومت د افغانستان په چارو کي د مداخلې هيڅ خيال نه لري. هغه کتاب ص ۲۶

ياورسکي وايي په هماغه ورځ د سردارمحمديعقوب خان ليک خپل پلار ته ورسېدی او پکښي ليکلي يې وه چي د انګرېزلښکرو د جلال آباد ښار ونيوی . امير خپل وزير ته په تعجب وکتل او ويې ويل چي عجبه ده له يوې خوا جنرال کوفمان په افغانستان کي د انګرېزانو د مداخلې نه کولو په باب اطمينان راکوي او له بلې خوا انګرېزان هره ورځ زموږ د مملکت خاوره ګام په ګام لاندي کوي. دا ضد ونقيض څه معنی لري؟ ص ۲۸

ډاکټر ياورسکي د اميرشيرعلي خان او جنرال راسګونوف د يوه مجلس په باب چي امير شيرعلي خان سخت پکښې عصباني سو ليکي« ... دا به مي هيڅ وخت هېره نه سي چي ستا سلف جنرال ستوليتوف په کابل کي، د لومړي ځل لپاره، زما سره خصوصي کتنه کوله او چي خبري پيل سوې نو ما خپل ښی لاس ور اوږد کړ او له سپين زړه او ريښتينولی مي پوښتنه ورڅخه وکړه چي راسه حقيقت راته ووايه. آيا ته به هم لکه ويټکيويچ چي اووه څلوېښت کاله مخکي زموږ هيواد ته راغی؛ اور يې بل کړ او بيرته ولاړ، هغسي معامله وکړې؟ ده زما لاس کښې کيښ او راته وې ويل چي زه راغلی يم او وظيفه لرم چي ستاسي له مملکت سره د استعماري قواوو په مقابل کي مرسته وکړم او ستاسي له ازادی څخه ساتنه وکړم. اوس دا دی د هغه مرستو او ساتنو نتيجه وينو. بلې موږ ته ثابته سوه چي پرافغانستان باندي استعماري قواوو د دوهم ځل لپاره بېرحمانه تېری وکړ او دا د مقتدر او لوی تزاري دولت د استازو د وعدو نتيجه ده. موږ د کاله شل ميليونه روپۍ عايدات درلودل او په دې بودجه مو د خپل هيواد د سولي او سوکالۍ لپاره شپېته زره عسکر روزلای سوای او په عصري وسلو مو سمبالولای سوای. موږ کولای سوای چي له دې پيسو څخه زموږ د خپل هيواد خلکو ته د علم او فن له فيض څخه ګټه ورسوو. خپل تجارت او کرنه په تقويه کړو. د خلکو د ژوند سطح بهتره کړو. په دې وخت کي ستاسي د هيواد سفارت راځي؛ په خپلو تشو خبرو او لاپو شاپو موږ ته شنه او سره باغونه ښيي... مګر موږ ګورو چي له دې خبرو څخه بل هيڅ ترلاسه نه سوه بلکه زموږ بيچاره هيواد مو په وينو رنګ کړ او تباه مو کړ... ص ۴۲

په دې باره کي زيات تفصيل موږ له موضوع څخه ليري کوي او په يوه لنډ مضمون کي يې ځای نسته. اميرشيرعلي خان بالاخره د ۱۸۷۹ کال د فبروري پر اتمه په مزار شريف کي، له ژور غم او غوسې سره وفات سو.

ډاکټرياورسکي د هغه د شخصيت او له هغه سره د روسيې د نامردۍ په باب ليکي« اميرشيرعلي خان له يوې خوا سرسخت، زړه ور، د ټينګ عزم خاوند سړی وو مګر په عين وخت کي ډېر مهربان، زړه سواندی او خوش باوره سړی وو. د ژوند تر وروستيو شېبو پوري يې د روسيې د سفارت له هيات څخه، له ټولو ضداونقيض خبرو له اورېدلو سره سره، له ادب او نزاکت څخه کار واخيست؛ او په دوستي او يو رنګي کي يې هيڅ تغيير رانه ووست. پر دې خبري بايد اعتراف وکړو چي جنرال ستوليتوف، جنرال راسګونوف او د روسي ترکستان نايب الحکومه جنرال کوفمان، په لومړي سر کي، ده ته څه ډول وعدې ورکړې او د ده په زړه کي يې څه اميدونه ور پيدا کړل؛ مګر په پای کي يې ټول په ياس او نااميدی بدل کړل، چي امير له يوه لوی دولت څخه هيڅ انتظار نه درلود. جنرال ستوليتوف کابل ته له رسېدلو څخه يوه ورځ مخکي په قلعه قاضي کي د جنرال کوفمان د ټلګرام له لاري د برلين د کنګرې په فيصلو خبر سو او په دې پوه سو چي روسيه نور نه سي کولای په منځنۍ اسيا کي خپلې نقشې عملي کړي او له افغانستان سره هغه مرستي چي اړتيا ورته لري وکړي. نو ولې يې دا خبره امير ته ونه کړه؟ او هغه بېچاره يې ولې په تياره کي پرېښود؟ عجيبه خو لا دا چي امير ته يې توصيه وکړه چي په کابل کي د انګرېز د سفير له منلو څخه ډډه وکړي؛ او د افغانستان د فلاکت او بدبختی تماشې ته د خير پر غونډۍ کښېنستل. د هيات دوهم رييس جنرال راسګونوف پخپله امير ته دا پېشنهاد وکړ چي پيترزبورګ ته ولاړ سي او شخصا له تزار سره ووينې او د مرستي غوښتنه ورڅخه وکړي. امير د هغه د مشورې په اساس مزار ته ولاړ او چي غوښتل يې روسيې ته ولاړ سي په دغه وخت کي جنرال راسګونوف ته د جنرال کوفمان ليک را ورسېدی او هغه ته يې کښلي وه چي امير روسيې ته له تګ څخه منع کړي. د تعجب ځای دی چي د يوه دولت استازی، د مرکز له اجازې پرته، د يوه بل هيواد رهبر ته پر خپل سر مشوره او غلط هدايتونه ورکوي او هغه غولوي. مګر د افغانستان امير له دې ټولو تېرايستنو سره سره له حوصلې او لوی والي څخه کار واخيست. نه يوازي يې هغه هيات په ورين تندي رخصت کړ بلکه سوغاتونه يې لا هم ورکړل. ص ص ۷۷-۷۸

په مقابل کي انګرېزان هم له امير شيرعلي خان سره پر خپله نامردي باندي اعتراف کوي او ليکي« ډېره به ګرانه وي چي په دغه موضوع کي پر امير شيرعلي باندي زړه سوی ونه کړو. روسانو ځکه ستوليتوف کابل ته واستاوه چي په مقابل کي انګرېزانو د مالټا ټاپوته پوځونه لېږلي ول. ډوک آف ارګايل وايي موږ پخپله امير شيرعلي له داسي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ

مشکل حالت سره مخامخ کړ چي هغه بله لاره نه درلوده. مور د دې دپاره ښيخي ډېر دلايل لرو چي ووايو چي امير نه غوښتل چي روسيه دي هغه هيواد ته هيات ولېږي. دا مو هم بايد په نظر کي وي چي په دغه وخت کي چي برتانيې له امير څخه وغوښتل چي په خپل هيواد کي د انګرېزانو سفيرته اجازه ورکړي، په دغه وخت کي د هغه ګران زوی وفات سوی وو او په غم اخته وو. وايسرا کولای سوای چي يو څه له صبر څخه کار واخلي. سايکس ص ۱۰۹
د ډاکټر ياورسکي خاطراتو ته په کتو سره، چي په ډېر انصاف يې ليکلي دي، سړی ويلای سي چي د افغان او انګرېز پر دوهمي جګړې باندي د کتاب په ليکلو کي د روسي جنرال نيکولايويچ سوبوليف په کار کي يوه لويه نيمګړتيا موجوده ده. هغه پر دومره لويه تراژيدي باندي، چي هم د يوه مظلوم هيواد پوځيان او اولسونه پکښی تلف سول، هم پخپله يو لوی استعماري طاقت پکښی سپک سو او يو ځل بيا يې د افغانستان په خاوره کي شرمونکې ماته وکړه او پوځيان يې تلف سول او د يوه مظلوم هيواد پر خاوره باندي ناروا تېری وسو، يو لوی کتاب ليکلی او د روسيې مضر او له نامردۍ او سپين سترګی څخه ډک رول ته يې اشاره قدر نه ده کړې.
خو که يوازي دغه ټکی په نظر کي ونه نيسو، کتاب له ښيخي زياتو ګټورو معلوماتو ډک دی او په تېره بيا د تاريخ له ځوانو شاګردانو سره ډېره ښه مرسته کولای سي. زه محمدطاهر کاڼي ته، چي نورو ګڼو ترجمو ته په کتو سره يې ويلای سم، چي هم يې له ښه صلاحيت او هم به يې له ښې امانت داری څخه کار اخيستی وي، د زړه له کومي مبارکي وايم او د لا زياتو برياوو او ګټورو فرهنګي خدمتونو دعا ورته کوم.


۱: سوبوليف، بريد جنرال ليونيد نيکولايويچ. د افغان او انګرېز دويمه جګړه. ۲۰۱۸ بهير مطبعه کابل.

۲: ياورسکي، ډاکټر جي ايل. سفارت روسيه تزاري به دربار اميرشيرعلي خان. کابل دولتي مطبعه. چاپ اول.

3: Sykes, Percy. A History of Afghanistan Volume 2. First Indian Edition 1981
4: Roberts, Lord Roberts of Kandahar. Forty one years in India. 1898 London




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ